او هغوی ته یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس په څېر اودس وکړ

د یحیی بن عماره المزني څخه روایت دی وایي چې: عمرو بن أبی حسن مې ولیده چې له عبد الله بن زید څخه یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس په اړه پوښتنه وکړه، نو هغه د اوبو یو کنډول راوغوښت او هغوی ته یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس په څېر اودس وکړ، نو د لوښي څخه یې په لاسونو اوبو را واړولې، نو دري ځلې یې خپل لاسونه وویښځل، بیا یې لاس په کنډول کې ښکته کړ، نو دري ځلې یې خوله وویښځله، او دري ځلې یې پوزې ته اوبه واچولې او بیا یې سوڼ کړه، بیا یې پکې لاس ښکته کړ نو خپل مخ یې دري ځلې وویښځه، بیا یې دوه ځلې لاسونه تر څنګلو پورې وویښځل، بیا یې لاس ورکوز کړ او خپل سر یې مسح کړ، مخته یې داړه لاسونه راکش کړل او بیا یې شاته بوتلل، بیا یې دواړه پښې تر ښنګرو وویښځلې.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

عبد الله بن زید رضي الله عنه په فزیکي ډول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اودس طریقه بیان کړه. نو د اوبو یو وړوکی لوښی یې راوغوښت، د لاسو په وینځلو یې پیل وکړ، بیا یې لوښی راکوز کړ او اوبه یې تري راتوی کړې او لاسونه یې د لوښی نه د باندې دري ځلې وویښځل. بیا یې په لوښي کې لاس ښکته کړ، نو دري لپې یې تري راډکې کړې او د هري لپې سره به یې خوله او پوزه وینځله او بېرته به یې سوڼ کوله، بیا یې د لوښي څخه لپه راډکه کړه او خپل مخ یې پرې دري ځلې وویښځه. بیا یې تري لپه راډکه کړه او دواړه لاسونه یې تر څنګلو پورې دوه دوه ځلې وویښځل. بیا یې لوښي ته لاس کوز کړ (لوند یې کړ) او په دواړو لاسونو سره یې سر مسح کړ، داسې چې د سر له پېل څخه یې مسح پیل کړه تر دې چې شاته ورسیده یعني د ورمېږ تر پورته برخې پورې، بیا یې بېرته راواپس کړل تر دې چې هغه ځای ته راورسېده چې مسح یې تري پېل کړې وه. بیا یې دواړه پښې له ښنګرو سره وویښځلې.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3444